## مطبوعاتي ځواب

**درونـد ورور ډاکټر عبدالطيف محمد:**

**اسلام عليکم و رحمت الله و برکاته!**

**ستاسو د مقالې په اړه تبصره: «اوس يې وخت نه دی، چې اسلامي تجربې پلي کړو»**

**(ژباړه)**

د ۲۰۱۹م کال د سپټمبر په ۱۰مه په الجريده ورځپاڼه کې تاسو د يوې مقالې له سرليک لاندې ليکلي وو: «موږ له ورور ابراهيم عثمان سره موافق نه يو چې وايي: «سوډان چې څه ته اړتيا لري هغه يوازې وړ کسان نه، بلکې سياسي مفکوره ده چې ستونزې هوارې کړي، له بحران سره معامله وکړي، انرژي وسپموي او د خلکو چارو ته پاملرنه وکړي. خلکو ته ارام، خوشاله او سوکاله ژوند رامنځته کړي او دا يوازې د اسلامي نظام تر چتر لاندې شونې ده، چې ټول شرطونه يې د خلکو د چارو د سمون پر بنسټ ولاړ دي.»

موږ حزب التحرير وايو، چې نن ورځ مفکورې د نوې تجربې په لټه کې دي. ده ښايي د مدنيت په لوري بلنه او هغه شعارونه اوريدلي وي، چې د اسلامي تجربې د غندلو لپاره لاس په کار وو او په سوډان کې له ناکامۍ سره مخ شول. اوس يې وخت نه دی چې د کومې اسلامي تجربې لپاره غږ پورته کړو او دا بلې انتقالي دورې ته پرېږدئ.

لومړی، له تاسو گران ورور څخه ډېره مننه کوم، په داسې حال کې چې د اسلام ضد رسنۍ د اسلام او د هغه د دولت په اړه خبرې جرم بولي او دا پلمه کوي چې د مخکيني رژيم دښمن دی او تاسو هم د خلافت او اسلام په اړه زموږ مفکورې را اخيستې.

دويم، اوسنۍ تجربه (انتقالي دولت) نوې نه دي: دا د مخکني رژيم بل توليد دی او يوازې په څېره کې لږ توپير لري. په داسې حال کې چې د نظام بنسټ د تېر په څېر دی. د بشر په لاس جوړ شوی پانگوال ډېموکراتيک نظام دی. هر څوک چې له اوسني وضعيت څخه د بل ډول پايلې تمه لري، هغوی سراب او هغې وريځې ته په تمه دي، چې باران نه لري.

دربېیم، مدنیت خپله سیکولریزم دی. مخکنی رژیم سیکولر و، خو له ړیرې سره. نوی سیکولرزیم لکه لمر روښانه او سوچه دی. که چېرې مدنیت، چې د خلکو د غولولو لپاره کارول کېږي او د نظامي ضد وي، بیا نو اوسنی رژیم له پخواني رژیم څخه ډېر نظامي غړي لري!!

څلورم: هر څوک پوهېږي چې پخواني رژیم یوه ورځ هم د اسلام پر بنسټ حکم نه دی کړی، اسلامي شعارونه یې کارول خو عمل یې د اسلام خلاف و. له همدې امله موږ ورته اسلامي تجربه نه وایو. څه شی چې له ناکامۍ سره مخ شوي، هغه اسلامي نظام نه دی. هغه کسان ناکام شوي، چې تش په نامه اسلامپال دي، د اسلام شعارونه یې پورته کړي وو او د سېکولریزم او مدنیت چیغې یې وهلې.

پایله: اسلامي نظام یو نظام دی، نه تجربې. تجربې تل په بشري نظامونو کې وي، ځکه هغوی له ناقص عقل څخه سرچینه اخلي، چې له چاپېریال څخه اغیزمن کېږي. نه پوهېږي چې سبا به څه کوي او چېرې به مري.

اسلامي نظام خلافت دی. ځانګړي احکام لري، چې په یوه واقعیت سره پلي کیږي. پر ټولو مسلمانانو یې راتګ واجب دی. موږ یوه ورځ هم اجازه نه لرو چې انتظار شو، نو درې کاله خو ډېر زیات وخت دی! الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالا مُبِيناً﴾**

[احزاب: ٣٦]

***ژباړه:*** *هېڅ مومن سړي او مومنې ښځې ته نه ښایي، کله چې الله سبحانه و تعالی او د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په یو شي امر وکړي، خو دوی بیا هم په خپلو چارو کې خپل ځانونه د واک او اختیار څښتنان وبولي. څوک چې له الله سبحانه و تعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه سرغړونه کوي، نو په ښتینې توګه دغه کس ګمراه دی.*

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

***ژباړه:*** *که چېرې څوک مړ شي او پر غاړه یې د بیعت کړی نه وي، د جاهلیت په مرګ مړی شوی.*

ابراهیم عثمان (ابو خلیل)

د حزب التحریر-ولایه سوډان رسمي ویاند

د صدور ګڼه: ۳/۱۴۴۱

۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۱۱مه

۲۰۱۹م کال، د سپټمبر ۱۰مه